دا درې ډوله مرخيړي خولۍ لري چې ټکي پکې وي. خو دا ټکي کولی شي په اسانۍ سره ورکې شي او په بشپړ يا جزوي ډول سره له منځه لاړې شي.

## سور مچۍ ډوله مرخيړي
امانيتا موسکريا

خولۍ يې 10-25 سانتي متره وي. د خولۍ رنګ کولی شي له روښانه سور څخه تر نارنجي سور پورې توپير ولري. ټکي پکې سپين دي. پښه کې يې قوي حلقه وي او د پښې ښکته برخه يې پړسوب لري. په تويېدونکی او مخروط ځنګلونو کې وده کوي.



## نسواري مچۍ ډوله مرخيړي
امانيتا موسکريا وار. ريګاليس

نسواري څخه تر ژېړ نسواري خولۍ 10-20 سانتي متره ده او سپينې ژېړبښنې نقطې لري. پښه روښانه حلقه لري او د پښې ښکته برخه پړسېدلې وي. په مخروطي ځنګل کې وده کوي.



## د پينتر مچۍ ډوله مرخيړي
امانيتا پنترينا

خولۍ 5-12 سانتي متره ده او په نسواريرنګونو کې راځي. ټکي يې سپين دي، په پښو کې حلقه ځينې وختونه ورکيداې شي. د پښو لاندې برخه يې پړسېدلې وي. معمولا په شنو ځنګلونو او پارکونو کې وده کوي، مګر ځينې وختونه په مخروطي ځنګلونو کې هم وده کوي.



# په سويډن کې تر ټولو خطرناک زهرجنه مرخيړي!



## ودرېږئ!

- هغه مرخيړي مه راشکوئ چې ددې بروشر له انځورونو سره ورته والی لري!
- هغه مرخيړي راواخلئ چې تاسې يې په پوره توګه پېژنئ!

څکل مه کوئ! ځکه چې زهرجن مرخيړي هم ښه وخوند لري!

- د مرخېړېو راشکولو لپاره يواځې هغه غټانو ته اجازه ورکړئ چې مرخيړي پېژني!
- در مرخېړو يو نوی چاپ شوی کتاب له ځانه سره وساتئ!

د مسموم کيدو پيښې په صورت کې 112 ته زنګ ووهئ او د زهر معلوماتوغوښتنه وکړئ - په ورځ کې 24 ساعته .
په کم بيړني حالاتو کې دې شمېرې ته زنګ ووهئ 010-456 6700
www.gic.se

### د زهرو عمل او نښې نښانې

دا ډول ټول مرخيړي زهر لري چې عصبي سيسټم ډوډوي. دا زهر سرخوږی، ګډوډی، بې خوبی، د شعور کموالی او اختلالات منځ ته راوړی شي. ځينې وختونه زړه بدوالی اوکانګې هم راتلی شي..

### تاسو څرنګه کولی شئ چې د مرخيړيو په اړه نور نور معلومات ترلاسه کړئ؟

- هڅه وکړئ چې د مرخېړو په معلوماتي کورس يا سفرونو کې برخه واخلئ. داسې تعليمي انجمونه او اتحاديې شتون لري چې دا ډول کورسونه او سفرونه تنظيموي.
- ښې ويبپاڼې: www.svampkonsulent.se
  www.svampguiden.com

انځور او ترتيب: مايکل کريکوريف

دا بروشر د زهرو معلوماتو مرکز او د مرخېړو مشاورينو ملي اتحاديې لخوا چمتو شوی
Svamp konsulenternas Riksförbund

## سپینه مچی ډوله مرخیري

مانیتا ویروسا



دا ډول ډ ول مرخیریسپین وي. خولۍ يي 5-12 سانتي متره وي. په پښو کې يې ږ وه حلقه شتون لري، ځینې وخت کیدای شي دا یوې هګۍ وي. د پښې لاندینی برخه یې په په شنه خټه کې پړسوب لري. دا ډول سپینه مچی ډوله مرخیري په شنه ختینه او ساحلي زنګ کې موندل کیږي.

### د زهرو عمل او نښې نښاني

دا ډول زهر ځیګر ته تاوان رسوي. د مسمومیت نښې څه په دې ډول دي د اوبو په څېر اسهالات التهاب او کانګې چې د مرخیري خوړلو څخه څو ساعته وروسته پیلیږي. په دې حالت کې د ځیګر د جدي زیان خطر لوړ دی. دا زهر د مرګ لامل کیدای شي.

## ټک مچی ډوله مرخیري

امینتا فلویډیس



ددې ډول مرخیرو اندازه 5-12 سانتي متره وي. د خولۍ رنګ یو څه توپیر لرلی شي، تقریبا په بشپړه تو ګه له سپین څخه تر شنه یا خړ او روښانه نسواري سیوري درلودلی شي. ډیسکونه يې سپین وي. پښه یو نرۍ حلقه لري، چې دا حلقه ځینې وختونه ورکه وي. د پښې لاندینی برخه يې پړسوب لري. ټک مچی ډوله مر خیري په تویېدونکو ځنګلونوکې وده کوي، په مخلوط ځنګل کې (تووېدونکو او مخروطي ونو سره یوځای وده کوي) او د مچ، بلوط او هزیل سره په واښو کې وده کوي.

### د زهرو عمل او نښې نښاني

ددې مرخیري زهر لکه د سپینه مچې ډوله مرخیرېو په څېر دي. همدا نښې يې وي او همدومره خطرناکه دي – پورته معلومات ولولئ

## لوړ زهریزه غنه

کورتیناریوس روبیلوس (سی. سپیسیو سیسیموس)



خولۍ يې له 4-8 سانتي مترو تر منځ وي. ګل ټول مرخیرۍ سور - نسواري یا خړ - نسواري وي. خولۍ يې ډیری وختونه په نښه کیږي، خو تل نه. په شګلن او وچ ځنګل کې وده کوي. یو ورته )ډول زهر لري د نارنجي - نسواري زهر (C. orellanus) دی. دا د بلوط، بیچ او هزیل سره په شنو ځنګلونو کې وده کوي.

### د زهرو عمل او نښې نښاني

دا ډول زهر پښتورګو ته زیان رسوي ، او کولی شي چې په بشپړ ډول یې له منځه ویسي. د مسموم کیدو نښې څو ورځې‌وروسته راڅرګندیږي. دا کیدی شي التهاب، کانګې، د تندې زیاتوالی، د عضلاتو درد، د ادرار زیاتوالي یا کمښت لامل وګرځي. مسموم شوی کس ممکن د اوږدې مودې لپاره د ډایلیسس درملنې ته اړتیا ولري او ممکن د پښتورګو ټرانسپلانټ ته هم اړتیا ولري.

## سټینمورکلا

ګیرومیټرا ایسکو لینټا



سټینمورکلا د مرخیرو په بشپړ ډول مختلف ګروپ پورې اړه لري. خولۍ يې 2-4 سانتي متره، نسواري ، ګرده او پوښل شوې ده. سټینمورکلا په پسرلي کې د اپریل څخه تر برچ پانو پورې وده کوي، ډیری وختونه د ځنګل سرکونو سره، د ریښو کانالونو ته نږدې یا په پاکولو کې موندل کیږي.

### د زهرو عمل او نښې نښاني

دا ډول زهر عصبي سیستم ګډوډوي او د وینې حجرو او ځیګر ته هم زیان رسولی شي. د مسمومیت نښې د سر درد، دوه ګونی لید او ګډې وډې خبرې کول. د مغزو او د معدې درد هم پکې واقع کیدی شي.